United Nations
Educational, Scientific and
Cultural Organization

Organisation
des Nations Unies
pour l'éducation,
la science et la culture

# مطبوعاتي اعلاميه

## د ليک لوست زده کړې په وسله د افغان پوليسو سمبالول

د۲۰۱۱ کال د جون۱۴ نېټه: نن په کابل کې د يونسکو دفتر او د جاپان سفارت (د افغان پوليسو د پياوړتيا لپاره د ليک لوست زده کړې) د پروګرام په هکله موافقه وکړه. نوموړی پروګرام به په کابل او د هېواد په نورو اووه ولايتونو کې د شلو مياشتو لپاره ۳۰۰۰ تنه پوليسو ته د ليک لوست زده کړې فرصت برابر کړي.

د درې مليونه امريکايي ډالرو په ارزښت د پوليسو د ليک لوست زده کړې د پروګرام دا موافقه د افغانستان لپاره د جاپان سفير ښاغلي ري ايچيرو تاکاشي او د افغانستان لپاره د يونسکو د استازي ښاغلي شګيرو اوياګي ترمنځ د کورنيو چارو د جلالتمآب وزير محترم بسم الله خان محمدي او د پوهنې وزارت د مرستيال ښاغلي سرور حسيني په حضور کې لاسليک کړ.



*(کيڼ لوري ته) د جاپان سفير ښاغلي ري ايچيرو تاکاشي (ښي لوري ته) او د يونسکو مشر ښاغلي شګيرو اوياګي د تفاهم ياددښت لاسليکوي په شاکې (کيڼ لوري ته) جلالتمآب ستر پاسوال بسم الله خان محمدي او (ښي لوري ته) ښاغلي سرور حسيني ولاړ دي.*

ښاغلي ري ايچيرو تاکاشي وويل، "د بشري ځواک د وړتياوو لوړول هغه اساسي موضوع ده، چې د جاپان د حکومت په باور د هر پرمختګ بنسټ جوړوي. نوموړي زياته کړه، چې دغه نوی پروګرام د افغان پوليسو د بشري ځواک د پياوړتيا لپاره دوامدار او اغېزمن ګام ګڼل کيږي"

دا پروګرام به د کورنيو چارو د وزارت او د پوهنې وزارت د ليک لوست زده کړې د معينيت لخوا په افغانستان کې د ناټو د روزنيز ماريت په ځبر د اړونده شريکو لوريو په همکارۍ په ګډه عملي شي او تخنيکي مرسته به يونسکو کوي ترڅو د پروګرام لوړ کيفيت باوري شي.

د کورنيو چارو وزير ټينګار وکړ، چې "نالوستي د ملي پوليسو پر وړاندې ستر ګواښ ګڼل کيږي، نوموړي زياته کړه، چې د ملي پوليسو په سلو کې ۷۰ پوليس له نالوستي او يا کم لوستي څخه ځوريږي، چې ددې ستونزې لرې کول د کورنيو چارو د وزارت تر ټولو مهم لومړيتوب ګڼل کيږي".

د پروګرام موخه دا ده، چې د پوليسو د ليک لوست کړې مهارتونو لوړ او د سولې په راوستو کې د هغوی ونډه پياوړې شي او په دې سره په افغانستان کې د سوله ييز او پرمختللي ولس په رامنځ ته کولو کې مرسته وشي. ددې پروګرام له لارې به د افغان ملي پوليسو د افسرانو لپاره هر اړخيز نصاب هم جوړ شي.

د يونسکو مشر ښاغلي شګيرو اوياګي څرګنده کړه چې "زه باور لرم، چې دپوليسو د ليک لوست زده کړې د پروګرام له لارې به يونسکو، د کورنيو چارو وزارت، د پوهنې وزرات او جاپان حکومت د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې د سولې او ثابت په راوستو کې د پام وړ رول ولوبوي."

د افغانستان په ځبر په يو جګړه ځپلي هېواد کې يو لوستي او باسواده شخص کولای شي د يوې سوله ييزې ټولنې د بنسټ په ايښودو کې ډېر مهم رول ولوبوي. د يونسکو تر ټولو مهم لومړيتوب دا دی، چې د هغه شمېر نالوستو لويانو لپاره ليک لوست زده کړې فرصت برابر کړي، چې شمېر يې د هېواد ٪۷۰ نفوسو څخه اوړي.


**د لا ډېرو معلوماتو لپاره په لاندې پته اړيکه ونيسی:**

محمد امين صادقی د يونسکو د عامه معلوماتو مسئول،کابل

a.sadiqi@unesco.org

+۹۳(۰) ۷۹۹۱۲۵۲۹۲

www.unesco.org/kabu